DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره هفتم
شماره مسلسل ۸۷۴
شنبه ۵ قوس ۱۳۸۴ هش
۲۴ شوال المکرم ۱۴۲۶ ه ق
26 November 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

امضای سند همکاری میان افغانستان وایران



ایران و افغانستان یادداشت تفاهم نامه همکاریهای اقتصادی و سیاسی راامضا کردند.این سند، توسط عبدالله عبدالله وزیر خارجه و منوچهر متکی همتای ایرانی اش، در جریان سفر داکتر عبدالله به تهران امضا شد.بر اساس این یادداشت تفاهم، دو کشور به منظور حل مسایل مرزی خود، کمیسیون عالی مشترک مرزی تشکیل می دهند.به گزارش ایرنا خبرگزاری رسمی ایران، در این یادداشت تفاهم، تدابیر لازم برای "تامین امنیت مرزها، تقویت روابط دو جانبه، احترام متقابل به حاکمیت یکدیگر و حسن همجواری" پیش بینی شده است. ص۴

صديقه بلخي : په ولاياتو کې رئيسان نه شم بدلولی

د حساب اخيستنې په پنځمه ورځ هم د خبريالانو د پوښتنو په وړاندې د ولسمشر کرزي د کابينې څو تنو غړو د ځانونو د سپيناوي هڅه کوله.

داسې ښکاريدل چې د ځوانانو وزارت، د شهيدانو او معلولينو وزارت ډيرې په زړه پورې لاسته راوړنې نه لري دمعلولينو او شهيدانو د چارو وزيرې صديقې بلخي خپله يوازنۍ ستونزه په ولايتونو کې د اړوندو رئيسانو بدلول رابدلول وبلل ۴مخ

په افغانستان کې يو ميليون کسان معتاد دي

داخبره د هغه خبري کنفرانس په ترڅ کې په ډاگه شوه چې دسرينا په هوټل کې دنشه يې توکو پر ضد دمبارزې ، عامې روغتيا د وزارتونو او دملگروملتونو دچارواکولخوا جوړ شوی و. دملگرو ملتونو په سازمان کې دنشه يي داروگانو دځانگې مشرې مېرمن ډورس بډنبرگ ووېل چې دغه سروې په ټول هېواد کې تر سره شوې

د هغې په وينا په هيواد کې نږدې يو ميليون کسان په نشه يي توکو روږدي دي چې په دې کې ۱۵۰۰۰۰ کسان ترياک ، ۵۰۰۰۰ هېروين او ۵۲۰۰۰۰ کسان چرس کاروي. دغه سروې ښيې چې د روږدو کسانو په سلو کې ۸۰ يې نارينه په سلو کې ۱۳ يې ښځې او په سلو کی ۷ يې ماشومان دي.

مېرمن ډورس وايي چې دهيواد د نورو سميو په پرتله په شمالي ولايتونو کې دنشه يي توکو څخه د استفادې کچه لوړه ده ددې په وينا ددې لامل دادی چې دشمال ځينې کورنۍ دخپلو کارونو د ترسره کولو په موخه دماشومانو دآراملو په هيله هغوی ته اپين ورکوي. ۴مخ

چهار تن قوای هسپانوی ودونفر ملکی زخمی کردید

دیروز ساعت چهار ونیم قبل از ظهر درمسیر کاروان موتر های نیروهای بین المللی کمک به امنیت یا آیساف مربوط قوای هسپانوی ماین جاگذاری شده منفجر شده که چهار تن از قوای هسپانوی ودوتن عابرین را مجروح ساخت مجروحین قوای آیساف به شفاخانه میدان هوایی ومجروحین عابر به شفاخانه ملکی ولایت مزار شریف انتقال داده شده اندواز وضعیت صحی آنها خبری در دست نمیباشد

این کاروان که ازقسمت سیلو از مسیر کارته قوای کار به مقر قول اردو درحرکت بود توسط بمب کارگذاری شده از راه دور توسط ریموت کنترول منفجرداده شد.به اساس یک گزارش دیگر چندی قبل یکنفر مسلح بالای نیروهای آیساف دراین شهر حمله کرده بود که حمله کننده توسط مردم دستگیر وبه چنگ قانون سپرده شد.

دلوی او بښونکي خدای په نامه

سرمقاله

گزارشدهیها، درد ملت را دوا نمیکنند

با گذشت هر روز وانتشار هر گزارش از سوی وزرای کابینه مردم در می یابند که چگونه بر سرملت کلاه گذاشته میشود وحقایق ماست مالی می گردد

جای تعجب است که گزارشها ونه حسابدهی ها هر روز با طمطراق بیشتر وطول وتفصیل بیشتر بالای چشم ، گوش و زبان رسانه ها سنگینی می کند. از ین گذشته حتی زمانیکه و اکنش این گزارشدهی های اعضای حکومت را در رسانه ها و در رادیو ها می خوانیم و می شنویم با حقایق تلخی که در کار کرد وزارتخانه ها نهفته است، ازورای جلسات و پرسش و پاسخ های خبرنگاران هم نمیتوان مطلب قابل تأمل وعمده یی را دید و دریافت.

آنچه در رسانه های دولتی انتشار می‌یابد، معمولاً یا مواد پروتوکولهای یی است که بین مسوولین وزارتها ونماینده گان کشور های خارجی به نشر می رسد، یا فعالیتهای روزانه این وزارتها و گاهی هم سیاست کاری و چگونگی شیوه های فعالیت ادارات حکومت را می خوانیم.

گزارش رسانه های دیگر هم از همان نحوه گزراشهای جلسات جوابدهی که بافشرده گی و تعارفات کوتاه به شکلی ارایه میشود که، هزار ویک کمبود و نارسایی در هر یک از ادارات حکومت به صورت آشکارا جلب نظر می کند ورسانه ها یانمیخواهند یا فرصت و مجال اشاعه آنرا ندارند و یا در ژرفای کار این ادارات حلول ندارند.

اعجاب انگیزتر اینکه برخی از وزراء حتی کمکهای کشور ها و موسسات خارجی را در گزارشهای خویش می گنجانند و برخی از وزراء از تشکیلات و ادارات خویش داد سخن میدهند برخی دیگر از سفر ها و هوا خوریهای خویش وتجلیل روزهایی که مصارف هنگفتی را با خود دارد، یاد می کنند. برخی دیگر از ساختمان و ترمیم ادارات شان در خارج مثنوی هفتاد من کاغذ را ارایه می دهند. یگان وزیر هم از طرح و تدوین چند تا مقرره ولایحه و مسایل و ویژه گیهاي ساختاری ادارات شان زبان و قلم میفرسایند.

دسته یی دیگر کار ها وابتکارات وزرای پشین وگاهی هم موسسات خارجی را در فهرست حسابدهی های شان می گنجانند ص۴

يو مړ او څلور ټپيان

دهيواد په جنوب کې دايتلافي ځواکونو ديوزغروال موټر دچپه کيدو له امله يو کانادايي عسکر مړ او څلور تنه نور ټپيان شوي دي .

په هيوادکې د ايتلافي ځواکونو يوه ويانـد ويلي دغه پيښه د کابل - کندهار د لويې لارې په اوږدو کې شوې ده.

په هيوادکې د ايتلافي ځواکونو ويانـد زياته کړې پيښه د کاناډايي عسکرو د يوه سپک زغره وال گاډي د نسکوريدو له کبله رامنځ ته شوي دوی وايې په دغه پيښه کې بل گاډي شامل نه و.

دکانادا صدراعظم پيل گراهام پرون په اوتاواکې دهيواد پارلمان ته ددغې پيښې رپوټ ورکړ. ددفاع چارواکي وايي دغه ځواکونه کندهار ته نږدې په گزمه وتلي وو او ددوی موټر چپه شوی . له ۲۰۰۱ کال نه راپه دې خوا چې په هيوادکې د امريکا په مشرۍ د ايتلافي ځواکونو عمليات پيل شوي په نوموړي هيواد کې ۲۴ تنه کاناډايي عسکر وژل شوي

اوس مهال کانادا په هيوادکې د ۱۰۰۰ په شا او خوا کې سر تېري لري.

نوموړی هيواد په پام کې لري چې د ۲۰۰۶ کال په لومړيو کې هيواد کې د خپلو سر تيرو شميره نږدې ۱۵۰۰ تنو ته ور زياته کړي.

دبی سرپناه ښځو لپاره داستو گنځي جوړول

په هرات ولايت کې دبې سرپناه ښځو لپاره استوگنځی جوړېږي دغه خبره ددغه ولايت دنداى زن دموسسې مشرى ثريا وکړه له پلان سره به دمارچ په اول دغه استوگنځی پيل او يوه دايمی مينه به ولرو دلته په هرات کې ډيرې هغه ښځې چې دبيلابيلو لاملونو له مخې يې دوسيې محکمې ته تللی وی او يا هم له بند نه آزادی شوی وی د کورنيو له لورې ددوهم ځل لپاره کورنی ته نه منل کيږي نو يو لامل يې همدا دی چې په هرات ولايت کې دداسې ښځو شمير پو څه زياته شوی ددغه ولايت دښځو دچارو مشرى سيما شير محمدى وايى دا ښځې اکثره په ښار کې دبدلمنى او دی ته ورته نورو جرايمو ته لاس اچوی

مسوول همدا اوس انجونی لرو چې په کوڅو کې سرگردانه گرځی او استوگنځی يې نشته سيما شير محمدى ددې سرپناه رغاونې ته په خوښې څرگنده کړه انجونې چې بې سرپرسته په کوڅو کې گرځی هم ځان او هم نورو ته ستونزې جوړوي.

يو بل ځان وژونکی برید

پرون ماښام د ۷:۳۰ بجو په شاو خواکې دننگرهار دجلال آباد په ښار کې يو ځان وژونکی برید وشو.

دارادې ورځپاڼې دفتر ته په يوه تيلفوني تماس کې ويل شوي چې دغه برید دعلي بابا شرکت ته مخامخ وشو.

ځان وژونکی وژل شوی او يو نفر ټپي شوی دی او ټپي سم دلاسه روغتون ووړل شوی دی.

په دې پېښه کې دځان وژونکو هويت معلوم شوی نه دی خو داسې ښکاري چې دا به هم له تروريستي عناصرو څخه وي. دننگرهار والي او سلاکار وزير گل آغا شير زی دپيښې ځای ته له خبريدو سره سم ورغلی دی.

په خبر کې ويل شوي چې تر اوسه پورې دمالی تلفاتو په هکله معلومات پوره شوي نه دي بايد وواېو چې په دې وروستيو څو مياشتو کې دځان وژونکو بريدونو شميره زياته شوې ده.

کټارې بد ګاونډیتوب راولي

زیاتِ شمیر خلك په دې اند دی چې پاکستان غواړی (دترهګری په وړاندې د جګړې په بهانه) له زموږ هیواد سره د اوږدې مودې لانجمنې پولې ته قانونی بڼه ورکړي.

داسې نه بریښي چې افغانان دې په خپل هیواد کې دورته پرتو ستونزو له امله دومره وخت ولري چې د پولې دپیړۍ اوږدې لانجې په هکله دې خپله غوسه اوناخوښي څرګنده نکړي.

خو دډیورنډ کرښه چې زموږ هیواد له پاکستان څخه بیلوی نن په هیواد کې تر ټولو حساسه او چاودیدونکی موضوع ده. له ټکسي چلوونکی څخه تر ولسمشر پورې هر څوك دهغې په هکله دویلو لپاره یو څو خبرې لري په دې هکله د خلکو احساسات ډیر زیات مثبت دی.

داپوښتنه اوس دپولو په اوږدو کې دپاکستان له خوا د اغزن مزی دتاوولو له وړاندیز سره سمه بیا مخې ته راولیدلې ده. دپاکستان ولسمشر دا موضوع تیره میاشت پرته له دې چې له خپل افغانی سیال سره یې راپورته کړي، دامریکا دبهرنیو چارو دوزیر کاندولیزارایس سره په یوې غونډې کې را برسیره کړه. پاکستان دا پوله هغه مهال تر خپلې ولکې لاندې اوستې ده چې په ۱۹۴۷ کال کې دیو دولت په توګه رامنځته شو.

افغانان ادعا کوی چې دا کرښه انګریزانو په امیرعبدالرحمن خان باندې په زور تپلې وه. خو هیڅکله هم ولس هغه منلې نه ده. افغان حکومت هڅه کړې چې دا تړون ان په ۱۹۴۸ کال په یو اړخیز ډول مات کړی خو لاتر اوسه دیو نړیوال منل شوي سرحد په توګه په خپل ځای پاتې دی.

دډیورنډ کرښه دپښتنو ترمنځ تیره شوې اودکومې شخړې له امله نه ده رامنځته شوې دپښتنو په ویشل کیدو برتانویانو ته دافغانستان دلاندې کولو لپاره ډیره ښه موقع په لاس ورغله چې غوښتل یې دروسیې دامپراتورۍ په وړاندې ترې دیو بیلوونکی سیمې په توګه کار واخلي.

اوس دپاکستان له پولې هاخوا د ۱۶ میلیونو په شاوخوا کې پښتانه استوګنه لري. چې له هغو زیات زموږ دهیواد ننه میشت دی.

برتانویان په دې ونه توانیدل چې زړور افغان ولس دځان تابع کړی خو دډیورنډ میراث لا دخلکو د قهر او غوسې دیو لامل په توګه لاتر اوسه پاتې دی.

افغانان په ټینګه په دې باور دی چې دې تړون خپل اعتبار له لاسه ورکړی دی. ځکه هغه باید په ۱۹۹۳ کال کې له یوې پیړۍ تیردو وروسته باطل شوی وای. د برتانیې دبهرنیو چارو وزارت وایي: چې تړون دپای ته رسیدو نیټه نه لري.

دا پوله اوس دنړیوالې ټولنې له خوا منل شوې او په رسمیت پیژندل شوې ده او بیا ټاکل له امکان څخه لیرې خبره ده.

خو افغانان له خپلې پریکړې نه دې شاته شوی تر څو هغه څه ترلاسه کړی چې هغوی د خپل حق ځمکه بولي. هغوی په دې قانع دی دپاکستان دپالیسۍ موخه داده چې دهغوی (افغانانو) هیواد کمزروی او کاواکه پاتې شي، تر څو خپله ادعا تر لاسه نه کړای شي.

ولسمشر پرویز مشرف، ددې کټارې دوړاندیز پر مهال په ټینګار وویل، چې دا کار به یاغیانو لپاره د اوښتلو راوښتلو کار ستونزمن کړي.

افغان ولسمشر حامد کرزی سمدلاسه دا وړاندیز رد کړ. هغه په کابل کې په یو مطبوعاتی کنفرانس کې خبریالانو ته وویل دیوال به دترهګرو مخه ونه نیسي. دا به لاپسې دنورو ستونزو دراوړلو لامل شي اوقومونه او کورنۍ به سره بېلې کړي.

دکرزی غبرګون سخت دی، مشرف خپل وړاندیز دکابل حکومت ته نه دی وړاندې کړی بلکې هغوی ته چې زیاتره افغانان یې سیمه کې (رښتینی ځواك) بولي، او د امریکا متحده ایالتونه چې د پاکستان ټینګ ملګری او ملاتړ دی په کابل کې دپاکستان دسفارت دمطبوعاتو یو کارکوونکی، محمد نعیم وویل (دپاکستان حکومت دا وړاندیز ځکه دامریکا متحده ایالاتونو ته کړې دی چې امریکایان دلته په افغانستان کې دي. هغوی دلته امنیت ډاډمن کړی دی.)

هغه زیاته کړه دا مازې یو وړاندیز او ددې لپاره وړاندې شوی و چې له دواړو خواوو څخه دترهګرو دتګ راتګ او وسلو دوړلو راوړلو مخه ونیول شي نه دیوناوړه موخې لپاره.

خو دا څرګندونې دهیواد دننه د خلکو په زړونو ښې نه لګیږي.

یو سیاسی څیړونکی او د افغان ملی جریدې خپرونکی، محمد حسن ولسمل وویل: په افغانستان کې دامریکایانو په شتون، پاکستانی پوځونه په سلګونه کیلو متره د هیواد خاورې ته رانوتی دی اوس غواړې دپولې په اوږدو کې یو امنیتی کمر بند جوړ کړی، ترڅو له هیواد څخه نیولې خاورې ته پاکستان قانونی رنګ ورکړی. که دپاکستان تر شا دامریکایانو ملاتړ نه وایی نو هیڅکله به یې داسې خبرې نه وای کړی.

دکرزی حکومت په دې هکله هیڅ غبرګون نه دی ښودلی چې د پاکستان تیرې ودروی ځکه هغه په امریکایی ملاتړ غره دی.

ماهران وایی، دپاکستان حکومت دامریکا دمتحده ایالاتونو له ټینګ فشار سره مخامخ دی ترڅو د اسلامی ډلو مخه ونیسي اوزموږ هیواد ته د یاغیانو دلیږلو مخه ډب کړی کیدای شي دا خبره لامل شوې وی چې دپولې په شاوخوا دکټارې دتاوولو مفکوره یې وړاندې کړې وي.

دعلومو داکادمۍ غړې او سیاسی څیړونکی حبیب الله رفیع وایی: پاکستان غواړی چې دترهګری په وړاندې ځان دیو متحد په توګه راڅرګند کړي.

خو درفیع لا په دې هم شك راځی چې اسلام آباد دافغان حکومت له کمزورتیا او د امریکا دمتحده ایالتونو څخه ددیوال دجوړولو لپاره په میلیاردونو ډالره واخلی او له بلې خوا غواړي د ډیورنډ پولې ته رسمیت ورکړي.

سیاسی څیړونکی محمد قسیم اخګر له دې خبرې سره موافق دی

هغه وایی پاکستانی پوځونه د هیواد خاورې ته وړاندې راغلی دی اواوس غواړی ددیوال په جوړولو د ډیورنډ کرښې ته رسمیت ورکړی زما په اند دا دپولې هاخوا پښتنو پورې اړه لري، چې خپل سرنوشت په خپله وټاکی.

پر امنیتی سیستم دبیا کتنې اړتیا

محمد بشیر [illegible]

جوته خبره ده چې له یوې مودې راهیسې دهیواد پر مرکز اونورو سیمو کې امنیتی ستونزې زیاتې شوې دی اوهره ورځ د ورانکارۍ پیښې لکه چاودنې، پر امنیتی قواوو بریدونه، پر ښارونو باندې راکټی بریدونه اوداسې نور رامنځته کیږي.

دنومړو پیښو تر خوا د سیاسی وژنو (ترور) ګراف په لوړیدو دی چې په ډاډمنه فضا کې دژوند تیرولو باور کمزوری کوی. دبیلګې په توګه دکابل پر ښار باندې درې ځله راکټی برید چې مرګ ژوبلې یې هم درلودې په ختیځو لویدیځو او جنوبی ولایتونو کې ددینی علمانوو ترور، په کندهار، زابل، نیمروز او هلمند کې پرله پسې نښتې او داسې نورې پیښې یادولای شو.

پورتنی بیلګې دا خبره په ډاګه کوی چې زموږ دهیواد دامنیتی سیستم دټینګولو توان او صلاحیت کمزوری دی چې دغه سیستم باید دبیا کتنې لاندې راشي، خو هغه څه چې پرامنیتی سیستم د بیا کتنې په اړه ډیر ارزښت لري دهغوی لاملونو څیړل دی چې زموږ امنیتی سیستم یې کمزوری کړی دی. ددې موضوع دڅیړنې له پاره ښایی چې دامنیتی ځواکونو دجوړښت او فعالیتونو په برخه کې لاندې مسئلې تر غور لاندې ونیسو.

دامنیتی ځواکونو جګړه ییزه وړتیا

لکه چې لیدل کیږي زموږ امنیتی ځواکونه دهغو لازمو جګړه ییزو اړتیاوو څخه برخمن نه دی چې هغه سرتیری چې دملی پولیسو په لیکو کې دنده ترسره کوی په اړینو حربی زده کړو سمبال نه دی بلکې په لنډ مهالو کورسونو کې لومړنی نظامی زده کړې ترلاسه کړی دی چې په غرنیو او اوارو سیمو کې دمنظمې اوغلچکی عملیاتو په وړاندې دمقابلې توان نه لري.

له بله اړخه دوسلې او محاربوی امکاناتو په برخه کې هم زموږ امنیتی ځواکونه دحالاتو دارتیاوو سره سمه پیاوړتیا نه لري. هغه وسلې او نقلیه وسیلې چې ملی پولیس په واك کې لري دوسله والو غلو سره دمقابلې جوګه هم نه دی.

دامنیتی ځواکونو کمییت یا شمیر:

زموږ دامنیتی ځواکونو کمیت یا شمیر هم دهیواد له امنیتی وضعې سره تړاو نه لري لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه دپلازمینې په ګډون په ډیرو ولایتونو کې وسله والې نښتې، ترور راکټی بریدونه اوداسې نور ترسره کیږي. پردې برسیره په لویو لارو او ښارونو کې دغلا او شوکو پیښې هم رامنځته کیږي دغه راز په پولو کې دغیر قانونی تګ راتګ دمخنیوی له پاره په کافی شمیر پولیسو ته اړتیا ده چې زموږ داوسنیو ملی پولیسو شمیر د موجوده ستونزو دلیرې کولو له پاره بس نه دی.

دبهرنیو ځواکونو او کورنیو ځواکونو ترمنځ غواړې دهم اهنګۍ نشتوالی:

یوه بله دپام وړ مسله چې پر حالاتو دپوره قابو کولو امکان کمزوری کوي په مختلفو سیمو کې د پولیس، ملی اردو، آیساف او دتروریزم پرضد دنړیوال ائتلاف د ځواکونو ترمنځ په جګړه ییزو فعالیتونو کې دګډ پلان او ګډې کړنلارې نشتوالی دی. لکه چې ولیدل شول یوازې په تیرو دوه اونیو کې دائتلافی ځواکونو او ملی پولیسو ترمنځ درې ځلې یوازې په لویدیځه سیمه کې رامنځته شوې. ددې نه څرګندیږي چې دوی یو دبل قرارګاوې اوامنیتی پوستې هم نه پیژنی اوهر یو پرخپل سر دعملیاتو پلان جوړوی چې دا دامنیت ساتلو په تګلاره کې یوه لویه او دپام وړ ستونزه ده.

مخالفو ځواکونو سره دمقایسې نشتوالی:

په نظامی چارو کې یوه منل شوې خبره داده چې دهر یونظامی ځواك وړتیا د مقابل لورې دوړتیا سره په مقایسه کې سنجول کیږي خو زموږ دامنیتی ځواکونو جګړه ییزه وړتیا دداسې مقایسې پر بنیاد نه ده ولاړه. لکه چې لیدل کیږي دطالبانو اونورو وسله والو ډلو جګړییز امکانات اوپلانونه ورځ په ورځ بدلون او وده مومی خو زموږ دپولیسو پر دغو امکاناتو دبدلون نښې ډیرې کمې ترسترګو کیږي.

پورتنی ټکی هغه دپام وړ مسلې دی چې باید دامنیتی ځواکونو دپیاوړتیا له پاره په نظر کې ونیول شي ترڅو زموږ امنیتی ځواکونه دجوړښت او جنګی پلانونو په برخه کې دخپلو اصلی دندو دترسره کیدو لاړمه وړتیا ترلاسه کړي.

متصدی صفحه : نرگس

خواندنیهای جالب

پیدا شدن بقایای تمساح گودزیلا



بقایای فوسیلی تمساحی که ۱۴۰ ملیون سال پیش حاکم اقیانوس ها بوده و به "گودزیلا" معروف است در پاتاگونیا، منطقه ای در جنوب ارجنتاین و چیلی، کشف شده است.

دانشمندان اسم این جانور ترسناک را بخاطر پوزه شبیه دایناسور و دندان های کج و معوجش "گودزیلا" گذاشته اند.

هیئت پژوهشگران امریکایی - ارجنتاینی معتقدند که این حیوان از ترسناک ترین درنده های جهان بوده و از خزندگان آبزی دیگر و موجودات بزرگ دریایی تغذیه می کرده است.

اسم رسمی این جانور را که برای اولین بار در مجله ساینس معرفی شده داکوسورس اندینینسیس گذاشته اند.

برخلاف تمساح های امروزی این حیوان کاملاً در آب زندگی می کرده و بجای پا، باله داشته و طول آن از نوک سر تا انتهای دم چهار متر بوده و فک آن به تنهائی یک سوم متر درازا داشته است. تمساح ها در فاصله ۱۴۵ تا ۶۵ ملیون سال قبل تکامل پیدا کردند و در سطح جهان پخش شدند. بقیه انواع زنده تمساح های آبی فک های باریک و دندان های سوزنی شکل دارند که مناسب شکار ماهی های کوچک و نرم تنان ظریف است. اما این موجود تازه کشف شده شبیه دایناسور دندان های بزرگ اره مانند دارد.

دیه گو پل، یکی از پژوهشگرانی که در این کشف شرکت داشته می گوید: "این خصوصیات در دایناسورهائی شبیه تیراناسورس رکس هم وجود دارد. اما هیچ کس تصور نمی کرد که یک تمساح آبی هم این مشخصات را داشته باشد." زولما گاسپارینی، زیست شناس دانشگاه ملی لاپلاتا در ارجنتاین، اول بار با نمونه ای از گودزیلا در سال ۱۹۹۶ در آبگیر نئوکوئن، که زمانی خلیج عمیقی در کناره اقیانوس آرام بوده، برخورد کرد. اما یافته های او فقط قطعات کوچکی بودند که اطلاعات اندکی از این جانور و طبیعت و نحوه زیستش ارائه می دادند. اما اخیرا دو نمونه دیگر از جمله یک جمجمه فوسیلی کامل از این جانور پیدا شده است. تحلیل کامپیوتری از استخوان های پیدا شده این جانور نشان می دهد که د. اندینینسیس از خانواده تمساح هاست. دانشمندان معتقدند این جانور عادات تغذیه ای متفاوتی از همدوره های خودش پیدا کرده بود.

شکل و اندازه این جانور نشان آنست که از مهره داران و خزندگان بزرگ آبزی مثل ایکتیسوروس تغذیه می کرده و نه از ماهی های کوچک

پیشنهاد فضانوردان برای منحرف کردن سیاره ها

دو فضانورد ناسا می گویند طرحی را آماده کرده اند که می تواند مانع برخورد بالقوه سیاره ها به زمین شود.

ادوارد لو و استنلی لاو، فضانوردان آژانس فضایی امریکا، پیشنهاد می کنند یک راکت عظیم به فضا پرتاب شود تا با نیروی خود هر سیاره را که ممکن است در مسیر تصادم با زمین قرار داشته باشد "بکسل" کند.

وسیله نقلیه پیشنهادی آنها به سادگی بر فراز سیاره قرار خواهد گرفت و با استفاده از نیروی جاذبه آن را از مسیر تصادم منحرف خواهد کرد.



لو و لاو در نشریه علمی "نیچر" گزارش می دهند که یک موشک ۲۰ تنی می تواند سیاره به قطر ۲۰۰ متر را ظرف مدت یک سال از مسیرش منحرف کند.

دانشمندان معتقدند که اگر سیاره به این اندازه با کره زمین برخورد کند، باعث ویرانی گسترده و تلفات انبوه خواهد شد.

در گذشته ترفندهای مختلفی برای نجات زمین از چنین برخوردی پیشنهاد شده و بسیاری از آنها در فلم های هالیوودی-منعکس شده است.

لو و لاو معتقدند که چسباندن یک فضاپیما به سطح صخره ای و ناهموار یک سیاره ، به منظور جابجا کردن آن، بسیار دشوار خواهد بود. آنها استدلال می کنند که فضاپیما به سادگی می تواند از کشش جاذبه میان خود و سیاره برای انتقال آرام آن به یک مسیر ایمن استفاده کند.

این ایده در نمایشگاهی در موزیم علوم لندن به نمایش درآمده است.

ربکا ریچاردز، از مقام های این موزیم، گفت: "این ایده ای به نهایت مهیج است که از مخیله فلمنامه نویسان هالیوودی یا حتی دانشمندان نظری نشأت نگرفته."

"این یک طرح علمی واقع گرایانه از فضانوردان باتجربه است که می تواند یک اصل ساده علمی را به تجربه ای با اهمیت جهانی بدل کند."

ونوس اکسپرس راهی ماموریت خود به سوی زهره شد

فضاپیمای اروپایی "ونوس اکسپرس" از سکوی پرتاب بایکنور در قزاقستان به سوی سیاره زهره پرتاب شده است.

این فضاپیمای بدون سرنشین پس از سفری پنج ماهه وارد مدار زهره که نزدیک ترین سیاره به زمین است، خواهد شد تا در گردشی یک ساله به مطالعه اتومسفیر و سطح آن بپردازد.

دانشمندان از روی زمین نمی توانند چیز زیادی درباره زهره بیاموزند چرا که پیچیده در توده غلیظی از ابر است.

"ونوس اکسپرس" نخستین فضاپیمایی است که برای بیش از یک دهه راهی زهره می شود.

این سیاره علیرغم درخشندگی خارق العاده اش در گرگ و میش غروب، در واقع جهنمی ترین سیاره منظومه شمسی است.

تاکنون تنها معدودی فضاپیما، متعلق به شوروی سابق، بر سطح این سیاره فرود آمده اند و حداکثر پس از چند ساعت زیر فشار اتومسفیر غلیظ و اسیدی آن و دمای ۵۰۰ درجه ای سطح سیاره ذوب شده اند.

بخش اعظم اطلاعات ما از این سیاره توسط ماموریت ماژلان ناسا که در دهه ۱۹۹۰ برای پنج سال گرد آن می گردید جمع آوری شده است. ماژلان با استفاده از یک رادار از سطح زهره نقشه برداری کرده است.



"ونوس اکسپرس" که مجهز به هفت ابزار مختلف است باید بتواند حتی تصویر کاملتری چه از اتومسفیر پویای این سیاره و چه از فعالیت های آتش فشانی و لرزه ای سطح آن در اختیار ما بگذارد.

یکی از پرسش های کلیدی این است که چه عواملی زهره را تا این اندازه از زمین متمایز می سازد، درحالی که از بسیاری جهات باید همانند زمین باشد.

اتومسفیر زهره که عمدتا از دی اکسید کاربن تشکیل شده است گرمای شدید گلخانه ای تولید می کند و تشعشعات به تله افتاده خورشید در آن، دمای سطح سیاره را به طور میانگین به ۴۶۷ درجه سانتیگراد می رساند.

بررسی علت این موضوع به ویژه مورد علاقه دانشمندان است.

منجمان بر این باورند که زهره می تواند اطلاعاتی درباره چگونگی واکنش اتومسفیر زمین به انتشار گازهای گلخانه ای در اثر فعالیت های انسانی به دست دهد.

آژانس فضایی اروپا می گوید با به کارگیری مجدد برخی از عناصر ماموریت بسیار موفق "مارس اکسپرس" توانسته است نزدیک به ۲۰۰ میلیون یورو از مصرف ماموریت "ونوس اکسپرس" بکاهد

حال میتوانم به رویا های خود اعتماد کنم.
دریافت و ارسال پول در طی چند دقیقه محدود به سراسر دنیا.*
WESTERN UNION
انتقال پول
کابل بانک
Kabul Bank
© 2005 Western Union Holdings, Inc. All Rights Reserved.

- ضرورت به حساب بانکی نبوده و دریافت کننده مکلف به پرداخت هیچ نوع فیس نمی باشد.
- شما میتوانید، از ۱۹۵ کشور پول دریافت و یا به آن، ارسال نمائید.
- این خدمات در بامیان، غزنی، حیرتان، هرات، اسلام قلعه، جلال آباد، شهر کابل، قندهار، خوست، کندز، مزارشریف و زرنج موجود است.

۰۷۹ ۵۸۰۴۴۴ / ۰۷۰ ۲۹۹ ۲۴۱
۰۷۹ ۲۷۰ ۰۱۹ / ۰۷۰ ۲۷۰ ۰۱۹

* تابع اوقات فعالیت نمایندگی های دریافت کننده میباشد.

گزارشدهیها، درد ملت....

و یگان وزیر عالیقدر هم از رنگمالی وساختمان تعمیر وزارات مربوط واز کانکریت ریزی و پارکینگ وسایط وزارت خویش شرح کشافی عرضه می فرمایند.

یگان وزیر مصلحتی هم قضایاو مسایلی را پیش می کشد که نه خود در آن وارد است ونه حقایق ارایه شده اش قناعت مردم را فراهم می کند و از اصلاحات سخن می زند درحالیکه مردم هیچگونه اصلاحاتی را شاهد نیستند و مشاهده نمی کنند.

جالبتر از همه صحبتهای برخی از مسوولین دولتی در رسانه ها، در جهت دفاع از این گزارشهاست درحالیکه خود ادعا می کنند در مورد بصورت دقیق اگاهی ندارند ... ولی به دفاع شان ادامه میدهند.

با اینهمه یکبار اگر به وضعیت کشور توجه کنیم و حالت ناهنجار کار در ادارات دولتی، فساد اداری سوء استفاده، رشوت های دالری وچپاول های بی رویه، بی باز خواستی ها و بی بندوبار یهای دوامدار، بیکاری مردم، وعده های نافرجام، تبلیغات میان تهی در عرصه بازسازی و کارهای سمبولیک ونمونه یی هر وزارت، وضعیت نابه سامان مردم وکشور وفریاد به ستوه آمدگان را در هر گوشه در هر ساعت ودر هر مکان ببینیم وبشنویم هرگز به این گزارشها که نام آنرا حسابدهی میگذارند، قانع نخواهیم شد. به عنوان پرسش اگر از آگاهان وخبره گان بپرسیم که آیا آنچه به نام حسابدهی در دامن مطبوعات ریخته میشود و از تلویزیون ها ورادیو ها انتشار می یابد، چقدر درد این ملت بیچاره! را درمان کرده است؟ و تا کدام اندازه برزخم های ناسور شان مرهم گذاشته است؟ آیا باز هم پاسخ شان مثبت خواهد بود؟

صدیقه بلخي : په ولایاتو کې ریسان...

دې زیاته کړه چې که وغواړي چې یو رئیس له دندې گوښه کړي خلک یې په وړاندې مظاهرې کوي او له گواښونو سره مخامخ کیږي. هغه معلولین چې کله نا کله د دغه وزارت په وړاندې پر لاریونو لاس پورې کوي ، د معلولینو او شهیدانو وزیرې دوی داسې کسان وبلل چې ډیرې پیسې لري او ددې د کار په وړاندې ستونزې راولاړوي. د ځوانانو د چارو وزیرې امنې افضلي وویل اړوند وزارت یې د ملي یو والي په برخه کې ډیر کار کوي

د دې خبرې لامل چې ولې دې وزارت ډیر کار نه دی کړی ، زیاته یې کړه چې ډیري لږې میاشتې کیږي چې بودیجه او تشکیل یې منل شوی دی. د حج او اوقافو وزیر هم د خبریالانو له گڼو پوښتنو سره مخ شو. ده وویل د راتلونکي حج لپاره یې اړین تدابیر نیولي دي تاکل شوې ده چې سږ کال ۲۵۰۰۰ افغان حاجیان سعودي عربستان ته د حج د مراسمو د ادا کولو لپاره ولاړ شي. دوی به د نورو کلونو په پرتله دولت ته یوازې د تگ راتگ پیسې ورکوي او نور لگښتونه به په خپله کوي

تېر کال حاجیانو پر دغه وزارت ډیرې نیوکې لرلې. د کډوالو وزیر ډاکټر اعظم دادفر د افغانستان په ۲۴ ولایتونو کې بیا راستنو شو کډوالو ته د سر پنا لپاره د زمکې د ویشنې خبره وکړه او ټینگار یې وکړ چې د ځانگړې مقررې له مخې پرته له کډوالو نور کسان نه شي کولی چې ددغو مځکو اسناد ترلاسه کړي

په ډیرو ولایتونو کې په دې وزارت نیوکې دادي چې دغه مځکې د بیا راستنو شویو پر ځای نورو خلکو ته ویشل شوي دي. د اداري اصلاحاتو د کمیسیون مشر ډاکټر احمد مشاهد یا په دغه اداره کې د بډې اخیستنې په اړوند پوښتنو سره مخامخ شو. خو دغه خبر یې رد کړه او وې ویل چې د مهارت ، تجربې او د مشر تابه د وړتیا د لرلو د معیارونو پر بنسټ یې په دولتي پوستونو کې له ازموینو وروسته رئیسان ټاکلي دي. د عامې روغتیا وزیر سید محمد امین فاطمي وویل چې په هیواد کې یې د روغتیا بهیر ته ډیر پر مختگ ورکړی دی. ده زیاته کړه چې د افغانستان د لرې پرتو سیمو ته یې د روغتیایي مرستو د رسولو لپاره د هوایي امبولانس بندوبست کړی دی. دا به ۲ چورلکې وي چې یوه به یې ناروغان رالیږدوي بله به یې اړین دارو درمل رسوي

امضای سندهمکاری میان...

وزیر خارجه همچنین در جریان سفر به تهران، با محمود احمدی نژاد رییس جمهور ایران نیز دیدار و گفتگو کرد. آقای احمدی نژاد در این دیدار، با اشاره به پیوند های دیرینه دو کشور، گفت که ایران آماده همکاری در همه زمینه ها با افغانستان است. رییس جمهور ایران افزود: "ایران با تمام وجود برای پیشرفت و امنیت افغانستان تلاش می کند و خواهان ایجاد افغانستانی مقتدر، آباد و پیشرفته است".

محمود احمدی نژاد همچنین با اشاره به برگزاری انتخابات پارلمانی افغانستان در ماه اکتبر، گفت: "ملت افغانستان اکنون گام بلندی در جهت ثبات و اتحاد اقوام مختلف این کشور برداشته است و مطمئنا با حرکت به سوی تفاهم بر مشکلات دیگر نیز فائق خواهد آمد". وزیر امور خارجه نیز در این دیدار از کمکهای ایران به کشور قدردانی کرد و کمکهای جامعه جهانی برای بازسازی کشور را، زمینه ساز ثبات و توسعه در کشور خواند.

داکتر عبدالله گفت که تحکیم ثبات و امنیت و مبارزه با مواد مخدر مهمترین اولویتهای دولت افغانستان است. دولت افغانستان تاکنون با ایالات متحده امریکا و اتحادیه اروپا نیز، موافقتنامه همکاریهای مشترک امضا کرده است.مقامات افغان امیدوارند با امضای توافقنامه هایی از این دست با قدرتهای بزرگ و کشورهای همسایه، از تهدیدهایی که ممکن است بار دیگر ثبات و امنیت کشور را به مخاطره اندازد، جلوگیری کنند.

په افغانستان کې یو میلیون ...

میرمن ډورس وویل چې په سلو کې ۱۵ کسان د پېچکارۍ له لارې هېروین استعمالوي چې دا هم په هیواد کې د اچ آی وي د ویروس دخپرېدو لپاره گواښ دی. هغې د هیواد د روږدو کسانو شمېره د گاونډیو هېوادونو سره داسې پرتله کړې ده "له ایران او پاکستان سره په پرتله کې د هیواد د معتادینو شمېره له ایران څخه لږه او د پاکستان څخه زیاته ده" که له یوې خوا په هیواد کې د مخدره موادو کرکیلې د نورو کلونو په پرتله په سلو کې ۲۲ کمښت موندلی له بلې خوا د مخدره موادو معتادین د نورو کلونو په پرتله مخ په زیاتېدو دي چې د ځینو روغتیا پالو په نظر د نه پاملرنې په صورت کې به یې شمیر لوړ شي

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar (Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
Engineerjamil_amiry@yahoo.com